# د حضرت یوایل نبی کِتاب ـ ماخذ انبیاء

## پېژندګلو

حضرت یوایل پېغمبر دا پېغام راوړی چې د مالِک خُدائ ورځ راروانه ده. او ټول بنی اِسرائیل د دې لوئې ورځ په انتظار وُو چې کله به خُدائ پاک د قومونو عدالت کوی او وفادارو له به اجر ورکوی. خُدائ پاک منصف دے او ګناه له سزا ورکوی. خو بیا هم خُدائ پاک رحیم دے او هغوئ له معافی ورکوی ځوک چې توبه وباسی. کله چې مالِک خُدائ راشی نو ځوک چې د هغۀ نۀ دی د هغوئ دپاره به دا د خوف ورځ وی خو ایمانداران خوشحالی کولے شی ځکه چې د هغوئ ګناهونه معاف شوی دی. حضرت یوایل نبی د قحطۍ د مُلخانو مثال ورکوی. لکه څنګه چې د قحطۍ مُلخان هر څۀ بربادوی نو داسې به د مالِک خُدائ ورځ هم وی او هر هغه قوم به تباه کوی چې کوم د مالِک خُدائ سره بېوفا وی.
حضرت یوایل هر چا ته مِنت زاری کوله چې توبه وباسئ او د مالِک خُدائ راتلو ته تیار شئ. مونږ ټول انسانان یُو او نۀ شُو کولے چې خُدائ پاک یوازې په خپلو کوششونو رضا کړُو نو حضرت یوایل نبی یوه بله زبردسته پېشګوئې وکړه. هغه د هغې ورځې انتظار کوی چې کله به خُدائ پاک د خپل پاک روح په وسیلې سره مونږ د دې جوګه کړی چې هغه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

رضا کړُو نو خُدائ پاک فرمائی چې زهٔ به خپل روح په ټولو
خلقو نازل کړم. نو د دې نه دا خبره ثابتیږی چې د مالِک
خُدائ پیغام همیشه رښتینے او قابل اعتماد وی، نو دا
پېشګوئي هم پوره شوه او دا تر اوسه پورې هغه وعده ده چې
ایمانداران یې نن هم دعویٰ کوی. د حضرت یوایل نبی دا
پېشګوئي په اعمال د رسولانو ۲:۱۷ کښې سر ته رسېدلې ده.
د حفظ کولو دپاره ۲:۳۲ آیت "هر څوک چې د مالِک خُدائ
په نوم مدد وغواړی هغه به بچ شی."

# ١

١ د مالِک خُدائ کلام چې په یوایل د فتوایل په زوئ
نازل شو.

## د مُلخانو حمله

٢ اے مشرانو، دا واورئ. تاسو ټول غوږ شئ، څوک چې
په دې مُلک کښې اوسېږئ. ولې ستاسو په ژوند کښې یا
ستاسو د پلار نیکهٔ په ژوند کښې داسې څهٔ کله پېښ شوی
دی؟ ٣ دا خپل اولاد ته ووایئ، او هغوئ دې دا خپل اولاد
ته ووائی او داسې دې دا یاد تر نسلونو پورې تازه وی. ٤ د
قحطۍ د مُلخانو د لښکرو نه چې څهٔ پاتې شُو، هغه غټو
مُلخانو وخوړل، چې د غټو مُلخانو نه څهٔ پاتې شُو نو هغه وړو
مُلخانو وخوړل، او څهٔ چې د وړو مُلخانو نه پاتې شُو، نو هغه
نورو مُلخانو وخوړل. ٥ اے شرابیانو، ویښ شئ او
وژاړئ، اے مے څښونکو، تاسو ټول افسوس وکړئ، د نوؤ
میو په وجه افسوس وکړئ، ځکه چې دا ستاسو د شونډو نه
راښکلے شول. ٦ د هغوئ ټول لښکر زما په مُلک حمله

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وکړه، چې طاقتور او د شمېر نه بهر دی، د هغوئ غاښونه د
زمرى په شان تېرهٔ دى او د هغوئ داړې د زمرۍ په شان دى.
٧ هغوئ زما د انګورو بوټى تباه کړى دى او زما د اينځرو
ونې يې تباه کړې دى، پوستکى يې ترې نه ويستى دى او تباه
کړى يې دى، د دې څانګې يې خالى او لغړى پرېښودې دى.
٨ لکه د هغه پېغلې وژاړئ چا چې د ماتم جامې اغوستې
وى او د خپل چنغول په مرګ ژړا انګولا کوى. ٩ د غلې او
د څښلو نذرانې د مالِک خُدائ په کور کښې ختمې شوې.
هغه اِمامان ژاړى څوک چې د مالِک خُدائ په وړاندې
خِدمت کوى. ١٠ پټى تباه شوى دى، زمکه اوچه شوه، غله
تباه شوه، انګور ضائع شُو، او د زيتُونو تيل ختم شول. ١١
اے زميدارانو غمژن اوسئ، اے د انګورو د باغ ماليانو، ژړا
کوئ، د غنم او د اوربشو دپاره غمژن شئ، ځکه چې د فصل
پټى تباه شوى دى. ١٢ د انګورو بوټى اوچ شُو او د اينځرو
ونې وچې شوې، د انارو ونې، د کجورو ونې، او د سيوانو
ونې او ټولې مېوه دارې ونې وچې شوې دى. او يقيناً د خلقو
خوشحالى ورسره ورکه شوې ده. ١٣ اے اِمامانو د ټاټ
جامې واچوئ او وژاړئ، او ماتم وکړئ تاسو څوک چې په
قربانګاه کښې خِدمت کوئ. راشئ، ټوله شپه د ټاټ په جامو
کښې تېره کړئ، تاسو څوک چې د مالِک خُدائ په حضور
کښې خِدمت کوئ. ځکه چې ستاسو د خُدائ کور د غلې او
د څښلو د نذرانو نه محروم شو. ١٤ د مقدسې روژې نيولو
اعلان وکړئ، او د خلقو مقدسه اجتماع راوغواړئ. مشران
او د مُلک ټول خلق د مالِک خُدائ د خپل خُدائ پاک کور ته
راوغواړئ او مالِک خُدائ ته وژاړئ. ١٥ افسوس په هغه
ورځ، ځکه چې د مالِک خُدائ هغه د قيامت ورځ رانزدې ده،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په کومه به چې قادر خُدائ تباهی راولی. ۱۶ زمونږ خوراک
زمونږ د سترګو په وړاندې غيب شو، او خندا خوشحالی
زمونږ د خُدائ پاک په کور کښې بنده شوه. ۱۷ تخم د
زمکې لاندې اوچ شو. د غلې ګودامونه خالی او وران ويجاړ
پراته دی، خمبې تشې او ماتې شوې ځکه چې تخم اوچ شوے
دے. ۱۸ څاروی د لوږې نه چغې وهی، د څاروو رمې اخوا
ديخوا پرېشانه ګرځی ځکه چې د هغوئ دپاره شينکے نشته،
تر دې چې د ګډو رمې هم په تکليف کښې دی. ۱۹ اے مالِکه
خُدايه، زۀ تا ته د مدد دپاره فرياد کوم، ځکه چې اور د
څرېدو ځايونه وسوزول او لمبو د ټولو پټو ونې وسوزولې.
۲۰ تر دې چې ځنګلی ځناور هم تا ته فرياد کوی ځکه چې د
اوبو نِهرونه اوچ شوی دی، او د اور لمبو په صحرا کښې
څرن ځايونه سوزولی دی.

## د مالِک خُدائ د قيامت ورځ

۲ ۱ په صيون کښې بيګل وغږوئ، او زما په مقدس غرۀ
د جنګ اعلان وکړئ. او د دې مُلک اوسېدونکی دې ټول د
يرې نه ولړزيږی، ځکه چې د مالِک خُدائ د قيامت ورځ
راتلونکی ده، بلکې نزدې ده. ۲ دا د تورې تيارې او غم ورځ
ده، د ګڼو وريځو او تورو تيارو يوه ورځ ده. لکه څنګه چې د
سحر رڼا په غرونو راخوريږی داسې يو لوئ او طاقتور لښکر
راروان دے، چې داسې به نۀ پخوا چا ليدلے وی او نۀ به په
راتلونکی وخت کښې کله راشی. ۳ د هغوئ نه وړاندې اور
هر څۀ سوزوی، او د هغوئ شاته د اور لمبې روانې وی. د
هغوئ په وړاندې مُلک لکه د باغِ عدن په شان ښکلے پروت

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دے. خو د هغوئ نه وروستو زمکه لکه د صحرا په شان شی
او د هغوئ نه هيڅ شے بچ نۀ پاتې کيږی. ۴ هغوئ په ليدلو
کښې د آسونو په شان ښکاری، او هغوئ د جنګی آسونو په
شان منډې وهی. ۵ د جنګی ګاډو د شور په شان هغوئ د
غرونو په څوکو په ټوپونو تېرېږی، او داسې ټسار کوی لکه
کله چې اور ګياه سوزوی او يا لکه چې طاقتور فوج جنګ ته
روان وی. ۶ د هغوئ په نظر کښې قومونه يره کښې دی،
او د هر چا مخ د يرې نه زېړ دے. ۷ هغوئ لکه د جنګيالو
په شان حمله کوی، او د فوجيانو په شان په دېوالونو
ورخېژی. هغوئ ټول په قطار کښې سيدها ځی، او د خپلې
لارې نه اخوا ديخوا نۀ اوړی. ۸ هغوئ يو بل له ديکې نۀ
ورکوی، هر يو په خپله لاره نېغ ځی. او هغوئ د صفونو په
صورت کښې د دشمن په مورچو ورننوځی. ۹ هغوئ په
ښار باندې حملې دپاره ورغر وهی، او په دېوالونو يې په منډه
وراوړی. هغوئ کورونو ته وراوړی او په کړکيانو باندې لکه د
غلو په شان ورننوځی. ۱۰ هغوئ چې وړاندې ځی زمکه
خوځيږی، آسمان لړزيږی، نمر او سپوږمۍ تيارۀ شی، او
ستوری نور نۀ ځليږی. ۱۱ مالِک خُدائ د خپل لښکر نه
وړاندې لکه د تندر ګړزيږی. د هغۀ لښکر د شمېر نه بهر دے،
او هغوئ طاقتور دی څوک چې د هغۀ حکم منی. د مالِک
خُدائ د قيامت ورځ عظيمه، او سخته يرووونکی ده. څوک دا
برداشت کولے شی؟

## د توبې ويستلو حُکم

۱۲ مالِک خُدائ فرمائی چې، ”اوس هم تاسو سره موقع

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شته چې خپل ټول زړهٔ سره ما ته په روژه نيولو، په ژړا او
ماتم کولو سره راوګرځئ. ۱۳ د خپل خفګان دپاره خپلې
جامې مهٔ شلوئ خو د هغې په ځائ خپل زړونه وشلوئ.“
مالِک خُدائ خپل خُدائ پاک ته راوګرځئ، ځکه چې هغه
رحمان او رحيم دے، هغه زر نهٔ غصه کيږی او د هغهٔ مينه نهٔ
ختمېدونکې ده، او هغه دا غواړی چې معافی وکړی او سزا
ورنهٔ کړی. ۱۴ چا ته پته ده، کېدے شی چې هغه بدل شی او
زړهٔ يې نرم شی او د لعنت په ځائ برکت درکړی. او تاسو
لکه د مخکښې په شان د غلې او د ميو نذرانې مالِک خُدائ
خپل خُدائ پاک ته پېش کړے شئ. ۱۵ په صيون کښې
بيګل وغږوئ، د مقدسې روژې اعلان وکړئ، او خلق مقدسې
اجتماع له راوغواړئ. ۱۶ ټول خلق راغونډ کړئ، او غونډه
مقدسه کړئ، مشران، ماشومان او واړهٔ ماشومان راغونډ
کړئ. ناوې او زلمے د خپلې خپلې کوټې نه راوغواړئ. ۱۷
هغه اِمامان چې د مالِک خُدائ په حضور کښې خِدمت
کوی، هغوئ دې د خُدائ پاک د کور د هيوړۍ او د قربانګاه
په مينځ کښې ودرېږی او ژړا دې وکړی. هغوئ دې داسې
دُعا وغواړی، ”اے مالِکه خُدايه خپل خلق بچ کړه. خپل
خاص ميراث مهٔ د خندا کوه. هغوئ مهٔ پرېږده چې بې‌ايمانه
غېر مُلکيان وريورې ټوقې وکړی څوک چې دا وائی، د بنی
اِسرائيلو خُدائ پاک هغوئ پرېښودی دی څهٔ؟“

## د مالِک خُدائ جواب ورکول

۱۸ نو بيا به مالِک خُدائ په خپل مُلک غېرت وکړی، او په
خپلو خلقو باندې به مهربان شی. ۱۹ مالِک خُدائ به هغوئ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ته جواب ورکړی چې، ”ګورئ، زۀ تاسو له دومره غله دانه،
نوی مے او د زيتُونو تيل درکوم چې ښۀ ډېر وی او پرې ماړۀ
شئ، زۀ به بيا هيڅکله تاسو د نورو قومونو د خندا نۀ کړم.
۲۰ زۀ به ستاسو نه د شمال ټول فوجيان لرې وشړم، او
هغوئ به زۀ خوشی صحرا او وران مُلک ته وشړم. او د
هغوئ وړومبی دستې به مشرقی سمندر ته او وروستی به يې
مغربی سمندر ته وغورزوم. او د هغوئ سخا شوی لاشونو نه
به بدبوئ خېژی او په هر طرف به خورېږی. يقيناً چې مالِک
خُدائ غټ کارونه کړی دی. ۲۱ اے زمکې، مۀ يرېږه،
خوشحالی وکړه او خوشحاله اوسه، يقيناً چې مالِک خُدائ
غټ کارونه کړی دی. ۲۲ اے ځنګلی ځناورو، مۀ يرېږئ.
ځکه چې د صحرا د څرن زمکه راشنه کيږی. ونې به دوباره
د ميوو نه ډکې شی، بيا به د اينځرو او د انګورو بوټی ښۀ ډېر
ډک شی. ۲۳ اے د يروشلم خلقو خوشحالی وکړئ. په
مالِک خُدائ خپل خُدائ پاک کښې خوشحالی وکړئ. ځکه
چې هغۀ په وفادارئ سره په تاسو د خزان بارانونه وکړل. هغه
په تاسو د مخکښې په شان د خزان او د سپرلی دواړو ډېر
بارانونه راوروی. ۲۴ درمندونه به بيا د غلې نه ډک شی، او
چاټی به د نوۀ ميو او د زيتُونو د تيلو نه تر خولې خولې پورې
ډکې شی.“ ۲۵ مالِک خُدائ فرمائی چې، ”زۀ به تاسو ته د
نقصان شوی فصل تاوان درکړم کوم چې د قحطئ مُلخانو،
غټو مُلخانو، وړو مُلخانو او نورو مُلخانو خوړلی وُو. دا زما
لوئ لښکر وو چې ستاسو خلاف مې درلېږلے وو. ۲۶ تاسو
سره به د خوړلو دپاره هر څۀ ډېر تېر وی ترڅو چې تاسو ښۀ
ماړۀ شئ، او تاسو به د مالِک خُدائ خپل خُدائ پاک د نوم
شُکر ګزاری وکړئ، چا چې ستاسو دپاره معجزې کړې دی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو بيا به هيڅکله زما خلق ونهٔ شرميږى. ۲۷ نو بيا به تاسو
پوهه شئ چې زهٔ د خپلو خلقو بنى اِسرائيلو په مينځ کښې يم،
او دا چې زهٔ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک يم او زما نه
بغېر بل څوک نشته. نو بيا به هيڅکله زما خلق ونهٔ شرميږى.

## مالِک خُدائ د خپل روح رالېږلو وعده کوى

۲۸ د دې ټولو کارونو کولو نه وروستو به زهٔ خپل روح په
ټولو خلقو نازل کړم. ستاسو زامن او لوڼه به نبوت کوى،
ستا مشران به خوبونه وينى، او ستاسو ځوانان به رويا ګانې
وينى. ۲۹ په دې ورځو کښې به زهٔ هم په نوکرانو سړو او
ښځو دواړو خپل روح نازل کړم. ۳۰ زهٔ به په آسمانونو او
زمکه کښې حېرانونکى نښې يعنې وينه، اور او د لوګى برجې
ښکاره کړم. ۳۱ نمر به تور شى، او سپوږمۍ به لکه د وينو
تکه سره شى مخکښې د دې نه چې د مالِک خُدائ د قيامت
هغه لويه او هيبتناکه ورځ راورسيږى. ۳۲ خو هر څوک چې
د مالِک خُدائ په نوم مدد وغواړى هغه به بچ شى. او څهٔ به
په يروشلم کښې د صيون د غرهٔ نه وتښتى، لکه څنګه چې
مالِک خُدائ فرمائيلى دى، او هغوئ به په بچ شوو کسانو
کښې وى څوک چې مالِک خُدائ راغوښتى وى.

## د دشمن سزا

۳ ۱ نو ګورئ، په هغه ورځو او په هغه وخت کښې، کله
چې زهٔ د يهوداه او يروشلم قسمتونه بحال کړم، ۲ زهٔ به
ټول قومونه رايوځائ کړم او هغوئ به لاندې د يهوسفط وادۍ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ته راولم. هلته به زهٔ د هغوئ خلاف عدالت شروع کړم، د
خپل ميراث يعنې د خپلو خلقو بنى اِسرائيلو په خاطر، ځکه
چې هغوئ زما خلق د قومونو په مينځ کښې خوارهٔ وارهٔ کړى
دى او زما مُلک يې په خپل مينځ کښې تقسيم کړے دے. ٣
هغوئ زما په غوره شوو خلقو په خپلو کښې پچه واچوله. او
هغوئ د کنجرو حاصلولو دپاره هلکان خرڅ کړل، او د ميو
څښلو دپاره يې پېغلې جينکۍ خرڅې کړې. ٤ اے د صور،
او صيدا او د فلستيه ټولو علاقو، اوس تاسو سره زما خلاف
څهٔ دى؟ ولې تاسو ما نه د هغه څهٔ بدل اخلئ چې ما کړى
دى؟ کهٔ تاسو داسې کوئ، زهٔ به په تېزۍ او تُندۍ سره په
تاسو هغه څهٔ وکړم، څهٔ چې تاسو کړى وى. ٥ ځکه چې
تاسو زما سپين زر او سرهٔ زر واخستل او زما قيمتى خزانې
مو خپلو مندرونو ته يوړې. ٦ تاسو د يهوداه او د يروشلم
خلق په يونانيانو خرڅ کړل او هغوئ دې د خپل مُلک نه لرى
ولېږل. ٧ ګوره زهٔ به هغوئ د هغه ټولو ځايونو نه واپس
راولم په کومو کښې چې تاسو خرڅ کړى دى، او زهٔ به
ستاسو په سرونو هغه څهٔ راولم، کوم چې تاسو کړى دى.
٨ زهٔ به ستاسو زامن او لوڼه د يهوداه په خلقو خرڅ کړم،
او هغوئ به دوئ په لرې مُلک سبائيانو باندې خرڅ کړى. ما،
مالِک خُدائ دا وفرمائيل.“ ٩ د قومونو په مينځ کښې دا
اعلان وکړئ چې د جنګ دپاره تيار شئ، خپل ټول جنګيالى
راوغواړئ، ټول جنګيالى نزدې راشئ او حمله وکړئ. ١٠ د
خپلو قلبو د يوو نه په ټکولو تُورې جوړې کړئ او د خپلو
بوټو د قينچيانو نه نيزې جوړې کړئ. کمزورے دې هم ووائى
چې، ”زهٔ تکړه يم.“ ١١ اے ټولو قومونو د هر طرف نه زر تر
زره راشئ، او په وادۍ کښې رايوځائ شئ. اے مالِکه خُدايه،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اوس خپل لښکر راوغواړه. ۱۲ قومونه دې راپاڅي، هغوئ
دې د يهوسفط وادۍ ته لاړ شی. هلته به زۀ مالِک خُدائ
ناست يم، چې د ګېرچاپېره ټولو قومونو عدالت وکړم. ۱۳ د
هغوئ بدکاری ډېره لويه ده، لور وچلوئ ځکه چې فصل پوخ
شوے دے. راشئ، انګور د پښو لاندې چخنی کړئ ځکه چې
د انګورو لنګری ډکه ده. او د ذخيره کولو چاټی تر خولې ډکه
ده. ۱۴ په زرګونو زرګونو خلق د عدالت په وادۍ کښې دی.
ځکه چې د عدالت په وادۍ کښې د مالِک خُدائ د قيامت
ورځ رانزدې ده. ۱۵ نمر او سپوږمۍ به تور شی، او ستوری
به نور نۀ ځليږی. ۱۶ مالِک خُدائ به د صيون نه
وغړمبيږی، او د يروشلم نه به لکه د زمری وغوريږی، آسمان
او زمکه به ولړزيږی. خو مالِک خُدائ به د خپلو خلقو بنی
اِسرائيلو دپاره د پناه ځائ او مضبوطه قلعه وی.

## د خُدائ پاک د خلقو دپاره برکت

۱۷ ”نو بيا به تاسو ته پته ولګی چې زۀ، مالِک خُدائ ستاسو
خُدائ پاک، په خپل مقدس غر صيون کښې اوسېږم. يروشلم
به مقدس وی، او د پردی وطن لښکر به بيا هيڅکله هغه فتح
نۀ کړی. ۱۸ په هغه ورځ به د غرونو نه نوی مے څڅيږی، او
غونډو نه به پئ بهيږی، او د يهوداه ټولو ولو کښې به ډيرې
اوبۀ روانې وی، او د مالِک خُدائ د کور نه به يوه چينه
بهيږی چې د کيکر وادی به اوبۀ کوی. ۱۹ خو مِصر به
وران ويجاړ شی، او ادوم به بيابان شی، ځکه چې هغوئ د
يهوداه په خلقو ظلم وکړو، او هم د هغوئ په خپل مُلک کښې
يې بې ګناه خلق ووژل. ۲۰ خو يهوداه به د تل دپاره آباد وی،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او يروشلم به تر تلو نسلونو قائم پاتې شی. ٢١ زۀ به د
هغوئ د قتلونو بدل اخلم کوم چې تر اوسه پورې ما نۀ دے
اخستے. ځکه چې مالِک خُدائ په صيون کښې اوسيږی.“

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.6699
pashtobibles.org © يوسفزی ٢٠١٩
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.